# Darse Amal an Analytical study
# درس عمل تجزیاتي مطالعه

Dr. Faqir Muhmmad★

**ABSTRACT:**

Abdullah Jan Aseer is one of Pashto poet, drama writer, short story writer, translator, Editor, novelist, autobiographer and journalist. His drama Darse Abrat is second published Drama in Pashto literature and got famous at that time and in future too. His two books of poetry and one translation of “Bale Jebreel” poetry. Also write seven other pros books and many article in several journals. In his publication I discussed “Dares Amal” Analytically. In this book wrote a message of honesty, hardworking, knowledge, morale and charter especially for Youngers and commonly for everyone. This book contains ten chapters, every chapter have different subjects. The aim of all these subjects is to build character in social life, peace, brotherhood, dignity and best character. He loves his nation, place and language. We see all these clearly in his writing He also ply very important for freedom practically, politically and awake people by writings. , In this paper I discussed and highlight the thoughts of Aseer for best life of human beings.

**Key words**: Analysis of Darse Amal, introduction of its different subjects. Aseer,s thoughts.

درس عمل دعبد الله جان اسیر ډېر اصلاحي او غوریز اثر دے. دا کتاب په کال ۱۹۵۲ کښې چاپ دے. په دې کښې اصلاحي ،علمي او معلوماتي قسم له مضمونونه شامل دي. دځۀ مضمونو انداز خو تکل ته ډېر نزدې دےخو ددې ټولو بنیادي مقصد د ټولنې اصلاح ده او په ټولنه کښې دخرابیو نشاندهي اوددې حل دپاره کوششونه کول دي. د رشوت ، شفارش مخ نیوے دے. د بل مال نا حق نیولو غندنه لري. د ملاوټ د ګنده کاروبار نه خلق منع کول دي. خپل کار روزګار او د معیشت پېدا کول او په خپلو پښو اودریدل دي. خپل وسائل پېدا کول ډېر ضروري ګڼي اوپه دغه یوقام ترقي کوي. په دې کتاب کښې هغوي

★ Lecturer Bacha Khan Study Centre Bacha Khan University Charsada

خپلې تجزیې او مشاهدې بیان کړې دي. څۀ چې ئې لیدلي کتلي او محسوس کړي د هغې په رڼا کښې ئې لیک کړے دے دا کتاب ددې (درس عبرت) ډرامې شل کاله وروستو لیکلے دے. کله چې اسیر '' درس عبرت '' ۱۹۳۵ ډرامه لیکله( ۱ ) نو هغه وخت ددې وطن خلق دانګرېز استعمار غلامان وو او چې ئې په ۱۹۵۲ء کښې درس عمل لیکلو هغه وخت دې اولس د آزادۍ مرام حاصل کړے وو. دغلامۍ دور او په دې دور کښې واضحه فرق وو. هغه وخت خوچاته داظهار آزادي هم نه وه.

اسیر صېب چې دژوند محتلفو دورونو کښې څه لیدلي دي او محسوس کړي هغه ئې قلم ته سپارلي دي. په دې کښې د هغوي دوېنا ترمخه حالات ددې لیک سبب ګرځېدلي کوم چې دپاکستان دآزادۍ پس هغوي ته مخې ته شوي وو. هغه ټولې ستونزې مشاهدې او تجربې ئې بیان کړي دي. ددې عرض د یو پوخ پښتون په هېڅ د خپل اولس اصلاح او تربیت وو.۲ د هغۀ پېشه درس و تدریس وه نو ځکه یې په لیک کښې زړۀ راښکون ،نصیحت او تربیت ځلېدو. د هغۀ فن او فکر په نظم او نثر دواړو کښې د اهمیت جوګه دے.۳

داکتاب په لسو بابونو وېشلے دے چې هر باب ئې ځان ځان له مضمون لري اول باب سمندر کاکا ، دویم باب یو یونټ یا یوه تپه ، دریم دنمونې کلے ، څلورم غل بازي ، پینځم خواص و عام ، شپږم ګراني ، ووم صحت او تعلیم ، اتم انتخابات، نهم فرض او تنخواه او لسم باب فوځ دے.

اولنې باب سمندر کاکا اصلاحي مضمون دے چې تکل ته بیخي نزدې دےپه دې کښې اسیر صېب سمندر کاکا سره د مکالمې په انداز خبرې کوي او د هغوي ژور نظر او تجربې په شکل حقیقتونه بیانوي. سمندر کاکا داتیا کالو بوډا سړے دے او ډېر دخوند او مزې خبرې کوي.

سمندر کاکا دخپل پلار خبر ې کوي چې وئېل به ئې پخوا ډېره ارزاني وه هر څه خالص وو. غنم دوه روپۍ من او اوربشې په یوه روپۍ من خرڅېدل غواړې به په روپۍ سېر او پئۍ په انه سیر ملاوېدل. کپړه هم ارزانه وه د ډهاکې شل ګزه باریک ململ صرف په اته روپۍ تهان خرڅېدلو. سمندر کاکا وائي چې اوس دنیا بدله شوه هغه پېداوار دے خو برکت ختم شولوړه تنده زور شوه ،خلق یو بل ته بد نیته شول.هر څېز د ملاوټ نه ډک شو. څه هم خالص او سو چه نه ملاوېږي اوزار اوپېزار هم بې کاره جوړېږي او قیمت ئې داصلي او

مضبوط وصولولې شي دغه قسمه کمزورې او بېکاره ځېزونه راغلل او بل په نورو ملکونو انحصار کول ښۀ کار نه دے داوطن به هله ترقي کوي چې خپل پېدا ورا او اقتصاد پېدا کړي" سمندر کاکا په کتې کښې نبغ شو وئیل ئې خانه!واوره نن درته هغه راز ښائیم چې ما په ډېره تجربه زده کړے دے.ما ډېر دنیا لیدلې ده ډېر څه مې لوستي دي د اتیاکالو تجربه لرم.تر څو چې زمونږ دا خپل کلے د خپلو ضرورتو په حقله په کور پوره وو.زمونږ ژوند په ارام وو." ۴ هر څېز کښې ګډوډي ده.په پیو کښې نیمې اوبۀ اچولې شي غوړو کښې ډل شا ملولې شي.کورکمان کښې ورۀ کړې خښتے او مر چکې کښې رنګونه ګډولې شي.دغنمو د وړو دغه حال دے.

"غضب دخدائے هر څۀ خو پر ېږده.هغه داروګان هم سم پاتې نه شو.نقلي داروګان خر څولے شي اود خلقو ژوند خطره کښې اچولې شي" ۵

زمونږ ملک او قوم به هله ترقي کوي چې خپل وسائل پېدا کړو.ګټې ته کښنو.په هر څۀ کښې له خود کفیل شو نو هله به رښتوني ترقي حاصله کړو.له نور قومو نه ایجادونه کولے شي نو په مونږ څۀ چل شوے دے.مونږ هم همت او محنت پکار دے ترڅو چې د بل په طمع یو هېڅ به او نه کړے شو.بل دا چې مونږ له اجتماعي سوچ پکار دے.که چرې هر سړے د خپلې خپلې فائدې فکرونه کوي نو په ټولنه کښې ترقي نه شي راتلے اود عامو اولس ترقي نا ممکنه شي.

عبدالله جان اسیر د سمندر کاکاد کردار په خوله ددې اهمیت خبر دارې ورکوي.

" دېرش څلو ېښت کاله مخکښې ټماټر خلقو نه پېژندل نوي نوي چې راګډ شو نو خلقو به و رته سرۀ با ټینګړ وئیل نو احمد مالیار چرته ددې د بوزغلي کرلو چل زده کړلو خپله زمکه کښې به ئې هر کال کرل اوډېر فائده به ئې کوله که چا به ورته وې چې سخکال خو لږ بوزغلے راکړه چې مونږه هم څۀ بوټي اوکرو نو زر به ئې جواب ورکړو چې ته څه له ځان سړے کوے کله چې دې ټماټرو خوړلو ته زړۀ کیږي نو ماته سوال جواب کوه هغه دم به کور ته دراولېږم. ۶ دغسې دغه سړي ډېره موده په یو اځې ځان ددې د ګټې نه فائده پورته کړه او ډېره موده پس ددۀ دچالا کۍ نه خلق خبر شول.په دغسې اونور و طریقو که هر څو د یو فرد ګټه اوشي خو اجتماعي ټولنیزوده نۀ کیږي او اجتماعي ترقۍ ته لاره نیو لے کیږي.

مونږله پکار دي چې دټولنې سوچ اوفکر اوکړو.دټولنې په تر قۍ اصل کامیابي ده دغسې پخپلو پښو اودریدلو دپاره مقامي صنعت له وده ورکول او خپل اقتصاد مضبوطول دي.که

مونږ خپلو ضرورتو د پاره نورو ملکونو ته محتاج شو نو دهغوي تجارت او صنعت به پر مختګ کوي۔او مونږ به تل د بل لاس ته نا ست يو
اسير صېب مونږ ته دا پېغام راکول غواړي چې خپل وسائل پخپله پېدا کړواو ددې د پاره د ټولنيز فکر نه کار واخلو چې ټولنه ترقي اوکړي نو اصل ترقي او آزادي ثمرات به مخې ته راشي د يو فرد په ترقي معاشره کښې دلري بري کشمکش پېدا کيږي۔
يو يو نټ يا تپه :
په دې اصلاح مضمون کښې هم عبدالله جان اسير د سمند ر کاکا دفرضي کردار په خوله دعمل درس ورکوي او د ټولنې او وطن دپاره د اجتماعي فکر ښېګړې وړاندې کوي ۔ ديونټ مطلب دادې چې ټول ملک به يوه صوبه وي او دغه به مرکز وي۔دغه شان به پاکستان او بنګال دوه صوبې وي۔ددې يو والي فائدې هم بيانوي ځکه چې په دې وجه به د حکومت لګښت کم شي۔
ددې قسمه حکومت دپاره پکاردي چې داسې انتظام اوکړي چې دګټې دپاره وسائل پېدا کړي او هم دغې مقامي خلقو له دروزګارموقعې ورکړې شي که چرې مقامي خلق کم وي نوبيا دې د نور سيمونه خلق اخلي۔د ابادۍ مناسب تقسيم او شمېر پکار دې او فهرست ئې جوړول پکار دي چې د لګښت او آمدن معلومات تر ې په اسانه کيږي او دهغوي دتعليم ، روزګار او صحت په ښه طريقه خيا ل اوساتلے شي۔بل داچې هر کار دپاره مناسب او موزون کس ته کار سپارل پکار دي نو په ښۀ طريقه به ئې سرته ورسوي
"يوه بله خبره هم قابل غورده چې مونږ کښې موزون سړي نه دمناسب کار اخستو عقل نشته۔ يو سړے به ښۀ مستري کېدې شي هغه به دکانداري کوي ۔بل ښۀ ډاکټر کېدې شي۔هغه به موټر چلوي۔دغه وجه ده چې دکوم سړي ځائے د نوټونو چاپ خانه ده هغه بابودے۔او چې دکوم ځائے دبابو وو هغه چهاپه خانه کښې ارتبست دے۔نتيجه داشوه نه دے بابو شو نۀ هغه آرټسټ دے" ۷
کله چې يو سړے په غېرمناسب ځائے کښېنولے شي نوهغه هېچرې مناسب کارنۀ شي کولے۔ دغسې کار خراب شي۔که چرې په مناسب ځائے وي نو دخپلې پوهې او همت په وجه ډېره ترقي کولے شي۔زمونږ وطن کښې ډېر د کار خلق موجود دي خوهغه لټول پکار دي او د هغوي پوهي ، قابليت ، تجربې او اهليت مطابق ترې کار اخستل پکار دي۔او د هغوي

قدرداني هم پکار ده.نو هله به دا وطن ترقي کوي او اولس به په خپلو پښو اودريږي.
دغسې صنعت له هم په مقامي توګه ترقي ورکول پکار دي چې کومه علاقه کښې کوم قسم څېز ملاوېږي فائده دې ترې پورته کړي.که يوه علاقه کښې څپلۍ جوړيږي نو دغې صنعت له ترقي ورکړېشي.که يو علاقه کښې لرګي ډېر کيږي هغلته دې دماچسو کاخانه جوړه شي په مزه مزه به دغه کاروبار ترقي کوي او اعلیٰ معيار ته به رسي.
اسير صېب د سمندر کاکا په خوله وائي.
"په يوځل ځوک دکوټې سرته نه شي ختے.اول په لاندې پوړئ پښه ږدي بيا دهغې دپاسه ، بيا دهغې پاسه اوداسې به آخرسړے کوټې ته اوخېژي.اول سرکښې درنو اولويو صنعتو نو ته ګوتې مه اچوئ.اول وړومبي واړۀ اوکورني صنعتونه واخلئ" ۸

په ورو ورو پرې قدم ږدي ورباندې خيژي
په يوه ځله ځوک نۀ خيژي په بام (۹)

په سکولونو.کورونو او حجرو کښې هم د هنر او کسب زده کړلو او کار کولو رجحان پېدا کول ضروري دي په سکولونو کښې د يو مخصوص وخت دپاره دهنر زده کولو کار پکار دے.دغسې د پلاسټک لوښي جوړول.په شيشو پاره خېژول ، سياهي او پنسلونه جوړول ، پرتوغاښونه وغېره جوړول او نور کارونه چې په اسانه کېدلے شي کول پکار دي.دغسې د زميندارۍ اوزار او مناسب فصل په وخت کرل هم ډېر د فائدې کار دے.ځومره چې زر يوه سبزي يا فصل بازار ته راشي هغه هومره ډېره ترقي کوي. بل دا چې مختلف قسمه فصلونه کرل پکار دي که يو قسم کرل شروع شي نو هغه څېز به بازار کښې زيات شي او قيمت به اوغورزوي.
دنمونې کلے
د نمونې کلے دعبدالله جان اسير مثالي او خيالي کلے اسير اباد دے.په دې کښې اول اول زرکسان راجمع شي د خکومت نه مزکه په قسطونو واخلي چې د هغې دپاره مناسب وخت پنځۀ کاله ټاکلے شوې وي.د خکومت په مرستې داوبه خورانتظام اوشي دکورونو جوړولو هم د نقشې مطابق بندوبست اوشي دسکولونو کالجونو کار هم سرته اورسي.پاخه سړکونه او لارې لوڅې هم جوړې شي
"ورو ورو درنو صنعتونو ته ګوتې اچول شروع شو زمونږ دخپل کلي څو هلکان دانجيئرۍ دزدې کړې نه واپس شوي وو.هغوي اول دسائيکلونو ، بيا موټرسائيکلونو اوورپسې

دموټرولارو جوړولو يوه كارخانه شروع كړه ددې دپاره د لسو كالو يوه منصوبه تيـاره كړې شوه درخت كارخانه د مخكښې نه روانه دې كښې داضافې يوه پينځه كاليزه منصوبه تيـاره كړې شوه" ۱۰

په دغه كلي كښې د خكومت په اجازت ريډيو سټېشن او بيا ټي وي سټېشن هم جوړشو او پينځلس كالـه كښې ددې كلي نـه ښاريه جوړه شو اوچې كله قحط راشي نو د خپلې دكال دذخيرې نه ورسره سوا غله وي چې حكومت له په مناسب قيمت وركړي.او بيا پـه دغـه قحط پـه مناسبه طريقه لاس بر شي.ددغـه كلي خلق ټول تعليم يا فتـه او مهذب وي لا رې كوڅې پـاكې وي ټول خلق يو شان دامن او سكون ژوند تېروي.مرضونه كم وي دصحت خيـال سـاتلے شي ، هسپتالونه دښۀ عـلاج دپـاره موجود وي.داكلے دجنت يوه ټوټه وي دلتـه پـوليس ،عدالت تـه ضـرورت نـۀ وي او نـه مقدمې وي ، نـه جيلونـه وي هرطرفتـه باغونـه ، چمنونـه وي او د نـورو علاقو نه ورته خلق سېل له راځي او ترقي ته پسخيږي.غل بازاري د درس عمل پـه دې مضمون كښې عبدالله جان اسير په غل بازارۍ ذخيره اندوزۍ او ناجائزه منافع خورۍ طنز هم كړے دے اوددې دمخ نيوي لارې يې هم ښودلي دي.اود دې غندنه ئې هم كړې ده چې يو دكاندار د سر كاري نرخ نه په دوه ګونه ګران څيز خرڅوي ډاكټر دوايانې په مقرر نرخ نـه وركوي او د مجبورۍ نه يې خلق پـه ګرانـه بېغـه اخلي.دغسې ذخيره كونكي هم مـال خوندي كوي او عـارضي قلت پېدا كوي اوبيا ئې په ګرانه بېغه خرڅوي.اسير صېب ليكي:

"دا نن سبا چې كومه تباهي دې سوداګرو جوړه كړې ده دې ته ډېر فكر پكـار دے فـرض كـړه ستا وطن كښې پخپله د غلې ضرورت دے او د وطـن دښمن خلق پـه غـلا بـل ملـك تـه غلـه اوباسي.ستا وطن ته دكپړې ضرورت دے دا مضران په غلا كپړه بهر ته ليـږي كله دې وطـن كښې دغلې قحط شي كله د كپړې كله يو څيز كله دبل څيز " ۱۱

د حكومت ذمه واري ده چې دغه قسمه نا وړه عملونو پابندي اولګوي د دې مخ نيوي دپـاره كوششونه شروع كړي اول دې په طريقه ددې كارونو د منع كولو كوشش اوكړي كه اونـۀ شي نو سختې سزاګانې دې وركړې شي.ځكه چې دحكومت د واكدارانو كـار اولـس تـه فائـده رسول دي دهغوي دحقونو خيـال سـاتل دي اوكـه دانـه شي كـولې خو هسې پـه كرسو ناسته هېڅ فائده نه لري.

خواص او عوام

په دې مضمون کښې اسير صېب دخاص اوعام خلقو خبره کوي چې خاص خلق لګيا وي دکمزور حقونه خوري۔د ملک په وسائلو قا بض دي۔سره دا ختيار ه دکمزورو خلقو مرسته نه کوي د هغوي غربت نه ويني۔او دلته دوزيرانو داحال دے چې د ګرانۍ دلاسه په چغودي چې په تنخواه کار نۀ کيږي دادې زياته کړې شي۔رشوتونه هم اخلې د دولت او اجرت نامناسبه تقسيم ټولې مسئلې پېدا کړي چې يو وزيرشپيته روپۍ ورځ اخلي او کار ئې نه کيږي نو يو محنت کش خو هم په هوا نه پائي۔بل نوکر چې هغه سل روپۍ مياشت اخلي د هغه به څه ګزاره اوشي۔چې دغه تقسيم او د خاص وعام تصورو ي۔د تنخواګانو دغه طبقاتي تقسيم وي نو رشوت خو به خامخا عام وي۔

"يو سړے چې په شپتۀ روپۍ ورځ ګزاره نۀ شي کولے نو بل پله يو بابو په سل وروپۍ مياشت څه رنګ ګزاره اوکړے شي۔چې بدې نه اخلي نو څه چل اوکړي د اجرتونو او دولت غلط تقسيم داټولې خرابۍ پېدا کړي دي "۱۲

دغه غلط تقسيم او طبقاتي استخصال دبې آرامۍ او بد امنۍ سبب ګرځي۔په دنيا کښې مزاحمت هم په دې وجه پېدا کيږي انقلابونه هله سرپورته کوي چې انصاف نۀ کيږي۔د صبر پېمانه لبريزه شي نو کمزورې طبقه بيا د زوروري طبقې سرد لاندې پربباسي نو پکارده چې د عوامو او خواصو تر مېنځه د زمکې اسمان دا فاصله ختمه کړې شي۔

ګراني:

په دې مضمون کښې عبدالله جان اسير د ګرانۍ سببونه بيانوي يو خو دا چې مونږ په وخت خپل کار سر ته رسول پکار دي او چې ضروري کار وي خو د هغې وخت په ګپ شپ اوغېراهم کار خرابول نه دي پکار مطلب دا چې د ضرورت او اهم څيزونو ته توجه اوکړي۔د ژوند اهم ضرورتونو ته اوليت ورکړي چې بنيادي ضرورتونه په ښۀ توګه او اسانه پوره شي تخريبي کارورنوپه ځائے دے تعميري کارونه اوشي۔چې په وسلو اود بربادۍ په سامان کومې خرچې کيږي هغه دې په صحت تعليم او روزګار خرچ شي نو ملک کښې به خوشحالي او سوکالي راشي۔ګراني به هم نۀ راځي ځکه چې پېسې به بې ځايه نه خرچ کيږي ۔

په ګرانې نومې مضمون کښې اسير صېب ليکي :

" دیو ځیز دګرانۍ په وجه به اول ځیزونه ګران شي او د خلقو ژوند په مصیبت کښې شي. ګراني به هله سمیږي چې دا په فوځونو او تجربو دومره لوې خرڅونه بند شي ځکه چې دا ټول داسې خرڅونه دي چې محنت پرې اوشي ، او خرڅ پرې اوشي اولا څه ډیر ځیزونه تباه او ضائع شي. که چرې دغه ځیزونه راوخلي دتخریب په ځائے تعمیر کښې اولګولے شي نو دګرانۍ په ځائے به ارزاني شي" ۱۳

که مونږ غور اوکړو نو د یوایټم په جوړولو او ددې په تجربې بې حسابه دولت خرچ کیږي ، څومره عمله ددې دپاره کار کوي او نتیجه صرف بربادي.

دغسې دګرانۍ یوه وجه ذخیره اندوزي هم ده چې مصنوعي قلت پیدا کولے شي او بیا هغه ځیز مارکیټ کښې په ګرانه بیعه خرڅیږي د یو ځیز پیداوار کښې هم د ګرانۍ سبب جوړیږي. په غلا تجارت هم په وطن کښې ګراني راولي. یو ځیز چې بل وطن کښې ارزان وي او په تجارت پابندي وي خو چې دغه مال په غلا راوړلے شي نو ګران وي.

صحت او تعلیم :

په دې مضمون کښې لیکونکے ددې ملک د صحت په خراب حالت رڼا اچوي. د ډاکټرانو بې پروائي او د دولت حرص غندي. په جعلي دوایانو خبر ې کوي او ددې په نقصان د ټولنې وګړي خبروي ډاکټران دخپلې ګټې دپاره غیر معیاري دوایانې استعمالوي. غیر ضروري هم ورکوي چې ددې په وجه د مرض د ښۀ علاج په ځائے نورو مرضونو سره مخ شي. بل داچې غېر مستند ډاکټران او نیم حکیمان هم د صحت د بربادۍ سبب ګرځي.

لیکونکے نصیحت کوي چې دفطري او اسلامي اصولو مطابق ژوند تېرول پکار دي. بسیار خوري نۀ ده پکار او ورزش اهتمام هم ضروري دے بل داچې خوراکونه خالص او سوچه سوچه استعمالول پکار دي. په ژوند کښې غیر قدرتي ځیزونه خوړل هم د بیمارو سبب وي. دغسې په تعلیم او د استاذۍ په پېشه ئې هم ډېرې د کار خبرې کړي دي. استاد په احترام اود هغه په کار او ذمه وارئ هم په دې مضمون کښې رڼا اچولې ده.

انتخابات:

په دې مضمون کښې لیکونکے د ملکي او بین المللي حالاتو جائزه اخلي او د سیاست د مرحلو او سیاسي خلقو دکردار جائزه اخلي. د هغه خلقو غندنه کوي چې د خپل غرض ، مقصد او ذاتي ګټې او خواهشونو د پاره د اولس سره او د هغوي د احساساتو سره لوبې

کوي د سیاست اصل مقصد د ټولنې خدمت دے او د دوي د پرمختګ دپاره خپل صلاحیتونه پکار راوستل دي.
بعضې خلق داپېشه د خپل ذاتي عرض د پاره په اجتماعي سوچ خاوي کوي. ددې دپاره مختلفې پارټۍ بدلوي رابدلوي خپل هېڅ فلاحي فکر او نظریه نۀ لري. بس د مال دولت او عهدې دپاره هره روا ناروا کوي. خپل اصول نه لري او هر اختلاف او اتفاق ئې دخپل مقصد او عهدې د پاره وي. کله یوې ډلې او کله بلې ډلې سره ملګرتیا کوي او خپلې ګټې تر لاسه کوي. بل دا هم ښکاره کوي چې عام خلق د ووټ په اهمیت خبر نه وي او د کاغذ یوه ټکړه ئې ګڼي. د ووټ په افادیت ځان او عوام خبرول ډېر ضروري دي او په ووټ استعما لولو کښې په چا اثر انداز کېدل نه دي پکار او څوک هم مجبورکول مناسب نۀ دي چې د خپلې خوښې نه واوړي.
فرض او تنخواه :
په دې اصلاحي مضمون کښې عبدالله جان اسیر دملازمانود عفلت او په خپل کار د سستۍ خبره کوي. چې څنګه سرکاري کارکونکي نوکران عام خلق تېرباسي. د هغوي کارونه په مودو مودو ځنډوي او اخر دا اوشي چې کار خو اونۀ شي وخت او پېسې برباد شي. که چرې یوې سرکاري محکمې ته دې څۀ فیس پاتې شونو بیا ئې طمع مه کوه
"د سرکاري محکموحال خو دادے. هر سړے وخت تېروي د چپړاسي نه واخله عن ترلوې افسره پورې ټول بالکل سست او بېکاره شوي دي. چا کښې د فرض احساس خو پاتې نۀ دے هر سړے لور په لوټه تېرۀ کوي. مطلب د میاشتې پوره کولو دے. چې مطلب ئې پوره شي. خدائے دے اوکړي چې کار یو بخرې اونۀ شي "۱۴
ډېر نوکران هم دي چې ډیوټي نۀ کوي او تنخواه اخلي. د خپل کار نه خبر نه وي. نوکرۍ سره نور نور روزګارونه کوي او خپل سرکاري فرض نه پوره کوي حرامه تنخواه اخلي.
په دې مضمون کښې د خپل فرض پوره کولو تلقین کوي څوک چې خپل کار نۀ کوي دهغوي غندنه کو او ددوي د حق دپاره هم خبره کوي چې د ګرانۍ سره د تنخواه زیاتولو خبره هم کوي ددوي د بنیادي ضرورتونه پوره پوره ترسره کول ئې لازم ګڼي.
ددې نه علاوه بل مضمون فوځ کښې ددوي په اهمیت او ضرورت خبرې کوي چې فوځ ولې او څنګه دیوملک د دفاع او انتظام دپاره ضروري دے او په ټولوملکي مسئلو کښې د

عوامو خیال ساتي او د ددې وطن ملاپرې کلکه ده. په هنګامي حالاتو کښې فوځ د ملک بنۀ او په طريقه انتظام کوي او مشکلاتو نه د ويستلو کوشش کوي.

References

1 Rasheed, Ahmad, Pushto drama, Peshawar, Aamer printing press, 2016, p 86.
2 Dewbandee, Muhammad Latif Ullah, Sareeza,Da Sperlee Gul, Peshawar, Jadoon printing press, kal na laree,p,6.
3 Hamesh khaleel, Pukhtana leekwal, Pekhawer, University book agency, 2010, p 45.
4 Aseer, Abdullah Jan, Darse Amal, Krachi, 1956, p, 8-9.
5 As Above 6.
6 As, Above p, 11.
7 Above p, -33-34
8 Above, p, 34
9 Khushal khan Khattak, Armaghane Khushal, edit, Pekhawar. University book agency, Sayed Rasool Rasa, 2009,
10 Darse Amal, p, 70.
11 Above, p, 75.
12 Above, p, 81.
13 Above, p, 97.
14 Above, p, 162